


د مولانا سعيد افغاني : آزاده ، ټولنيزه ،علمي ، فرهنګي او نشراتي ارګان ته ښه راغلاست!



# داکتر فاروق « فردا »

د نشرنیټه : 28 جولای 2024 میلادی

# غزل

باچړ د بې ننګۍ يې د حيا په پښنو کې رغړي
حيا يې شوه بربنډه د هر چا په پښنو کې رغړي

چا شمعې ته ورياده کړه : راځي سهار له لارې
د اوښکو پنډ کاروان يې د رڼا په پښنو کې رغړي

چې څرک ته د ادا يې د نظر غېږه شي خلاصه
سراب يې له بڼو نه د هوا په پښنو کې رغړي

کيسې راته ای شېخه د طاعت جومات کې مکړه
آشنا ټول عبادت دې د دعا په پښنو کې رغړي

فردا خپلې وينې خاندي, ته خپل غرور ته ژاړه
چې نن له تنې غوڅ سر يې د تا په پښنو کې رغړي

***

فاروق « فردا »

د ۲۰۲۴ کال د جولای ۲۸

بازگشت به صفحه اصلی – www.said-afghani.org